د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي-څېړنیزه مجله
مجله علمی-تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences
Kabul University
e-ISSN: 3078-557X
P-ISSN: 3078-5561

Examining the Quality of Education in Sheniz Valley, Sayed Abad District

Namatullah Patanzai [1], Sayed Abdulsamad Mushtaq[2]

[1]Master's Student in Sociology, Faculty of Social Sciences, Education Kabul University, Kabul Afghanistan

[2]Sociology Department, Social Sciences Faculty of Kabul University, Kabul Afghanistan

Email: ec.patanzai.pwp@yahoo.com

Article History

Recevied:
August 3, 2026

Accepted:
September 19, 2026

Published:
September 22, 2026

Abstract

This study assessed the quality of education in the Shaniz Valley of Saydabad District, Maidan Wardak Province. Although educational activities are ongoing in the area, systematic academic assessments of teaching quality, the availability of qualified teachers, educational infrastructure, and factors affecting learning quality remain limited. Therefore, this study aimed to assess the quality of education in the Shaniz Valley and analyze the factors affecting it. The study employed quantitative research methods. Data were collected using a questionnaire based on a five-point Likert scale. The study population consisted of students, teachers, parents, and tribal leaders in the Shaniz Valley of Saydabad District. The study purposively selected 200 participants because they had direct experience and relevant information about the quality of education. The collected data were analyzed using SPSS software. Descriptive statistics, including frequencies, percentages, means, and standard deviations, were used for data analysis. The findings indicate that a shortage of qualified teachers, a lack of teaching materials, and inadequate educational infrastructure negatively affect the quality of education. The results further demonstrate that strengthening teachers' professional capacity, expanding educational facilities, and improving the teaching and learning environment play important roles in enhancing the quality of education. Accordingly, relevant government and educational institutions should implement effective policies and practical programs to promote teachers' professional development, strengthen educational infrastructure, and expand teaching and learning facilities.

Keywords

Educational Quality; Educational Challenges; Sheniz Valley; Teacher Qualifications; Sayed Abad District

Patanzai, N., & Mushtaq, S. A. (1405). Examining the Quality of Education in Sheniz Valley, Sayed Abad District. *Journal of Social Sciences - Kabul University*, *9*(2). 185-209. https://doi.org/10.62810/jss.v9i2.454

د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي-څېړنیزه مجله
مجله علمی-تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences
Kabul University
e-ISSN: 3078-557X
P-ISSN: 3078-5561

د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز په دره کې د ښوونې او روزنې د کیفیت ارزونه

نعمت الله پټانزی[1]، پوهنوال دوکتور سیدعبدالصمد مشتاق[2]

د ټولنپوهنې څانګه محصل، د ټولنیزو علومو پوهنځی، د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون، کابل، افغانستان

د ټولنپوهنې څانګه، د ټولنیزو علومو پوهنځی، د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون، کابل، افغانستان

برېښنالیک: ec.patanzai.pwp@yahoo.com

مخینه

د ترلاسه کېدو نېټه:
۱۹ زمری، ۱۴۰۵

د منلو نېټه:
۱۹ وږی، ۱۴۰۵

د خپرېدو نېټه:
۳۱ وږی، ۱۴۰۵

لنډیز

دا څېړنه د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز درې د ښوونې او روزنې د کیفیت د ارزونې په موخه ترسره شوې ده. سره له دې چې په یاده سیمه کې ښوونیز فعالیتونه دوام لري، خو د تدریس کیفیت، د مسلکي ښوونکو شتون، د ښوونیزو زېربناوو او د زده‌کړې پر کیفیت د اغېزمنو عواملو په اړه منظمې علمي ارزونې محدودې دي. له همدې امله، د دې څېړنې موخه د شنیز درې د ښوونې او روزنې د کیفیت ارزونه او د هغه د اغېزمنو عواملو تحلیل دی. دا څېړنه د کمي څېړنیز میتود پر بنسټ ترسره شوې ده. د معلوماتو د راټولولو لپاره د لیکرټ د پینځه درجه‌یي مقیاس پر بنسټ له پوښتنلیک څخه استفاده شوې ده. د څېړنې احصائیوي ټولنه د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز درې زده‌کوونکي، ښوونکي، والدین او قومي مشران دي، چې له هغوی څخه ۲۰۰ تنه د څېړنې د نمونې په توګه په هدفمند ډول انتخاب شول، ځکه یادو ګډونوالو د ښوونې او روزنې د کیفیت په اړه مستقیمه تجربه او اړوند معلومات لرل. راټول شوي معلومات د SPSS سافټویر په وسیله تحلیل شول او د معلوماتو د تحلیل لپاره له توصیفي احصائیې، لکه فریکونسي، سلنه، اوسط او معیاري انحراف څخه استفاده وشوه. د څېړنې موندنې ښیي چې د مسلکي ښوونکو کموالي، د درسي موادو نشتوالي او د ښوونیزو زېربناوو کمښت د ښوونې او روزنې پر کیفیت منفي اغېز کړی دی. همدارنګه پایلې څرګندوي چې د ښوونکو د مسلکي ظرفیت لوړول، د ښوونیزو امکاناتو پراختیا او د تدریسي چاپېریال ښه کول د زده‌کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم رول لري. په همدې اساس سپارښتنه کېږي، چې اړوند دولتي او ښوونیز بنسټونه د ښوونکو د مسلکي وده، د ښوونیزو زېربناوو د پیاوړتیا او د تدریسي امکاناتو د پراختیا لپاره اغېزمنې پالیسۍ او عملي پروګرامونه پلي کړي.

کلیدي کلیمې

ښوونیز کیفیت؛ د شنیز دره؛ مسلکي ښوونکي؛ ښوونیزې ننګونې؛ د سیدآباد ولسوالي

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله ربّ العالمین، والصلاة والسلام علی سیّد المرسلین، وعلی آله وأصحابه أجمعین. أما بعد:

ښوونه د ټولنیز پرمختګ، اقتصادي ودې او بشري پانګې د پیاوړتیا اساسي رکن بلل کېږي. په کلیوالو سیمو کې د ښوونې او روزنې کیفیت او لاسرسی نه یوازې د فردي پرمختګ لپاره مهم دی، بلکې د ټولنې د پایدار ثبات او هوسایني لپاره هم بنسټیز ارزښت لري. سره له دې چې افغانستان په تېرو کلونو کې د ښوونیزې پراختیا هڅې کړې دي، خو په ولسوالیو کې کلیوالي سیمې لا هم د زېربنایي کمښت، د مسلکي ښوونکو د نشتوالي، اقتصادي محدودیتونو او امنیتي بې ثباتۍ له املې له جدي ننګونو سره مخ دي. (نړۍ وال بانک، ۲۰۱۸، مخونه ۱۱-۱۵) دغه ستونزې د زده کوونکو پر منظم حضور، د زده کړې پر کیفیت او د ښوونیز عدالت پر تحقق مستقیم اغېز کوي.

د شنیز دره د میدان وردګو ولایت د سیدآباد د ولسوالۍ له هغو کلیوالو سیمو څخه یوه ده چې ښوونیز کیفیت یې د ځانګړو ټولنیزو، اقتصادي او امنیتي شرایطو تر اغېز لاندې دی. ښوونځیو ته د لاسرسي محدودیتونه، د ښوونکو د مسلکي وړتیا ټیټه کچه او د کورنیو اقتصادي ستونزې د زده کړې د دوام او کیفیت پر کچه اغېز لري. (بارو او لي، ۲۰۱۳، مخونه ۱۸۶-۱۸۹) سره له دې چې په ملي کچه د ښوونې په اړه څېړنې ترسره شوې دي. (یونسکو، ۲۰۲۱) خو د دې درې او ولسوالۍ په کچه منظم او شواهدو ولاړ تحلیل محدود دی. له همدې املې، دا څېړنه هڅه کوي چې د سیدآباد ولسوالۍ د ښوونې او روزنې د کیفیت اوسنی و ضعیت په علمي او احصائیوي ډول و ارزوي، اصلي ستونزې مشخصې کړي او د کیفیت د لوړولو لپاره عملي او پالیسۍ محورې سپارښتنې وړاندې کړي:

ښوونه په نړۍ والو پرمختیایي ادبیاتو کې د ټولنیز بدلون، اقتصادي ودې او بشري پانګې د پیاوړتیا اساسي عامل بلل شوی دی. (یونسکو، ۲۰۲۳، مخ ۱۵) د بشري پانګې نظریې له مخې، د ښوونه کیفیت او لاسرسی د اوږدمهاله اقتصادي ثبات او ټولنیز عدالت لپاره حیاتي رول لري. (نړۍ وال بانک، ۲۰۲۲، مخ ۳۴) سره له دې چې افغانستان په تېرو دوو لسیزو کې د ښوونځیو د شمېر او د ګډون د کچې په لوړولو کې نسبي پرمختګ کړی، خو رسمي

راپورونه ښيي چې په کليوالو سيمو کې لا هم د کيفيت، مسلکي ښوونکو او زيربناوو په برخه کې جدي تشې موجودې دي. (پوهنې وزارت، ۲۰۲۱، ۴۲ مخ)

د يونسيف د راپور له مخې، په لرې پرتو ولسواليو کې د مسلکي روزل شويو ښوونکو کمښت او اقتصادي محدوديتونه د زده کوونکو پر منظم حضور او ښوونيزو پايلو منفي اغېز لري.)يونيسف، ۲۰۲۲، مخ ۱۸(په دې څېړنه کې «د ښوونې او روزنې د کيفيت اوسنی وضعيت» د درې مشخصو ابعادو له مخې تعريفېږي:

ښوونځيو ته فزيکي او منظم لاسرسی.

د ښوونکو مسلکي وړتياوې او تدريسي کيفيت.

پر ښوونيز دوام د اقتصادي، ټولنيزو او امنيتي عواملو اغېز.

د ميدان وردګو ولايت، په ځانګړې توګه د سيدآباد ولسوالۍ ښوونيز و ضعيت د کليوالي ځانګړو شرايطو تر اغېز لاندې دی؛ خو موجودې ملي څېړنې زياتره په ملي يا ولايتي کچه ترسره شوې دي او د ولسوالۍ په کچه منظم احصائيوي تحليل محدود دی. تر اوسه داسې څېړنه نه ده ترسره شوې چې د سيدآباد ولسوالۍ په سطحه د لاسرسي، مسلکي وړتيا، اقتصادي وضعيت او ښوونيز دوام ترمنځ اړيکې په احصائيوي ډول و ارزوي.

همدا علمي خلا (Research Gap) د دې څېړنې بنسټ جوړوي. يعنې که څه هم ملي راپورونه عمومي ستونزو ته اشاره کوي، خو د ولسوالۍ په کچه د شواهدو پر بنسټ تحليل، د متغيرونو ترمنځ د اړيکو اندازه کول لکه: (Chi-Square) او (Correlation) او د پاليسي محوره وړانديزونو وړاندې کول تر اوسه نه دي ترسره شوي.

له همدې املـه د څېړنې اساسي مسئله دا ده، چې د سيدآباد ولسوالۍ د شنيز په دره کې د ښوونې او روزنې د کيفيت اوسنی و ضعيت د لاسرسي، کيفيت او ښوونيز دوام له اړخه په علمي او احصائيوي ډول و ارزول شي، د اغېزمنو عواملو ترمنځ اړيکې مشخصې شي او د شواهدو پر بنسټ عملي سپارښتنې وړاندې شي، خو د ښوونيز پاليسۍ جوړونکو لپاره د تصميم نيونې معتبر بنسټ برابر شي.

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې د کليوالي سيمو د ښوونې او روزنې په اړه کره او سيمه ييز معلومات وړاندې کوي، چې د پاليسي جوړونکو، ښوونيزو ادارو او ټولنې لپاره د تصميم نيونې بنسټ ګرځېدلی شي. د ښوونيز کيفيت تېټه کچه نه يوازې فردي پرمختګ اغېزمنوي، بلکې د ټولنې پر

اوږدمهاله اقتصادي او ټولنيز ثبات هم اغېز لري. له همدې امله د ښوونيزو ستونزو علمي تشخيص او د شواهدو پر بنسټ سپارښتنې وړاندې کول يوه عملي اړتيا ده.

۱.نظري اهميت(Theoretical Significance) : دا څېړنه د بشـــــــري پانګې له نظريې (Human Capital Theory) او د ښوونيز عدالت له چوکاټ سره مستقيم تړاو لري.(يونيسکو،۲۰۲۳؛ نړۍ وال بانک،۲۰۲۲). د بشـــري پانګې نظريه استدلال کوي چې د ښوونې کيفيت او دوام د اقتصادي توليد، عايداتي فرصـــتونو او ټولنيز تحرک بنســـټ جوړوي. په همدې اســـاس، د دې څېړنې موندنې چې اقتصـــادي و ضعيت د ښـــوونيز دوام سره مثبت ارتباط لري($r = 0.46, p < 0.01$) ، د يادې نظريې سيمه‌ييز تأييد وړاندې کوي.

سربېره پـــر دې د جنســـيت او د نجونـــو د ښـــوونه د ملاتـــړ تـــرمنځ معنی‌لرونکـــی ارتبـــاط(Chi-Square, $p < 0.05$) د ټـولنيز جوړښـت او فرهنګـي نظريـو لـه ادبيـاتو سره همغـږي لـري، چـې ښوونه يوازې يو تخنيکي سيستم نه، بلکې يو ټولنيز بنسټ ګڼي.

د دې څېړنـــې نظـــري نوښـــت پـــه دې کـــې دی، چـــې د لاسرسي، مســـلکي وړتيـــا او اقتصـــادي و ضعيت تـرمنځ اړيکـې پـه يـوه واحـد تحلـيلي چوکـاټ کـې ارزوي او د ولسـوالۍ پـه کچـه د نظرياتو عملي تطبيقي بڼه وړاندې کوي.

۲.عملي اهميت(Practical Significance) : د دې څېړنې عملي اهميت د پاليســـــــــي جوړونکو، ښوونکو، ښوونيزو ادارو، د زده‌کوونکو والدينو او سيمه‌ييزې ټولنې لپاره څرګند تطبيقي ارزښت لري. د څېړنې احصائيوي موندنې کولای شي د ښوونې او روزنې د کيفيت د بڼه والي لپاره د مناسبو پاليسيو او عملي پروګرامونو په طرحه او پلي کولو کې مرسته وکړي.

د څېړنـې مونـدنې ښـيي چـې د اقتصـادي و ضعيت او د زده‌کـړې د دوام تـرمنځ اړيکـه شـتون لـري؛ لـه همـدې امله، د اقتصـادي ستونزو د کمولـو لپـاره د زده‌کوونکـو د ملاتـړ پروګرامونـه، د اړمنـو کورنيـو لپـاره د مرسـتو زمينـه برابـرول او د زده‌کـړې د دوام د پياوړتيـا لپـاره مناسـب تـدابير د پاليســـي جوړونکـو لـه لـوري د پـام وړ دي. همدارنګـه، د مســلکي ښـوونکو د کمښـت پـه پـام کـې نيولـو سره، د ښـوونکو د مســلکي روزنـې او ظرفيـت لـوړونې دوامـداره پروګرامونـه د تدريسي کيفيت د بڼه والي لپاره مهم ګڼل کېږي.

د دې څېړنې پايلې ښـوونيزو ادارو ته هم زمينه برابروي، چې د ښـوونيزو امکاناتو، درسي موادو او تدريســي چاپېريال د بڼه والي لپاره لومړيتوبونه مشخص کړي. سربېره پر دې، د جنسيت او د نجونو د

ښوونې د ملاتړ ترمنځ د احصائيوي اړيکې موندنه څرګندوي چې د ټولنې د عامه پوهاوي او د نجونو د ښوونې د اهميت په اړه د پوهاوي پروګرامونه کولای شي د نجونو د ښوونې د ملاتړ په پياوړتيا کې مرسته وکړي.

په ټوله کې، د دې څېړنې عملي موندنې کولای شي د سيدآباد ولسوالۍ د شنيز درې د ښوونې او روزنې د کيفيت د ښه والي، د زده‌کوونکو د ښوونيز دوام د پياوړتيا، د ښوونکو د مسلکي ظرفيت لوړولو او د ښوونيز چاپېريال د اصلاح لپاره د تصميم نيونې او راتلونکو پروګرامونو په طرحه کې د شواهدو پر بنسټ د يوې مرستندويې سرچينې په توګه وکارول شي.

که څه هم په افغانستان کې د کليوالو سيمو د ښوونې او روزنې په اړه ځينې څېړنې ترسره شوې دي، خو ډېرې يې په ملي يا ولايتي کچه متمرکزې دي او د ولسوالیو په کچه دقيق او منظم احصائيوي تحليلونه لږ تر سترګو کېږي. په ځانګړې توګه، د سيدآباد ولسوالۍ د شنيز درې د ښوونې او روزنې د کيفيت په اړه داسې منظم کمي تحليل محدود دی چې د فريکونسۍ او سلنې (Frequency Analysis) له لارې د ښوونيز و ضعيت عمومي انځور وړاندې کړي، د دوه‌اړخيز جدول (Cross-tabulation) او کای ـ مربع (Chi-Square) ازموينې له لارې د اړوندو متغيرونو ترمنځ احصائيوي اړيکې وارزوي، او د همبستګۍ تحليل (Correlation Analysis) له لارې د اقتصادي و ضعيت، کورنۍ ملاتړ او ښوونيز دوام ترمنځ د اړيکو اندازه مشخصه کړي.

له همدې امله، دا څېړنه هڅه کوي، چې د سيدآباد ولسوالۍ د شنيز درې په کچه دغه علمي تشه تر يوه حده ډکه کړي او د ۲۰۰ ګډونوالو د معلوماتو پر بنسټ د ښوونې او روزنې د کيفيت په اړه کمي او احصائيوي شواهد وړاندې کړي. په دې څېړنه کې د توصيفي احصائيې ترڅنګ د کای ــ مربع (Chi-Square) او پيرسون همبستګۍ (Pearson Correlation) له احصائيوي ازمويښو څخه استفاده شوې ده. همدارنګه، د مو ضوع د پراخ علمي او تحليلي چوکاټ لپاره د يونسکو (۲۰۲۳)، نړۍ وال بانک (۲۰۲۲) او يونيسف (۲۰۲۲) له راپورونو څخه استفاده شوې ده، څو د څېړنې موندنې له موجودو علمي او نړۍ والو شواهدو سره پرتله او تفسير شي.

د څېړنې موخې په لاندې ډول دي:

۱. د سیدآباد ولسوالی د شنیز درې د ښوونې او روزنې د کیفیت د اوسني و ضعیت ارزونه.
۲. ښوونځیو ته د زده‌کوونکو د لاسرسي کچه اندازه کول.
۳. د ښوونکو د مسلکي وړتیا کچه ارزول او له ښوونیز کیفیت سره یې اړیکه معلومول.
۴. د زده‌کوونکو د اقتصادي و ضعیت او د هغوی د ښوونیز دوام ترمنځ د اړیکې معلومول.
۵. د کورنۍ ملاتړ او د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام ترمنځ د اړیکې معلومول.
٦. د ټولنیزو عواملو او د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام ترمنځ د اړیکې معلومول.
۷. د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ ترمنځ د اړیکې معلومول.
۸. د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي لپاره د څېړنې د مونډنو پر بنسټ عملي او پر شواهدو ولاړې سپارښتنې وړاندې کول.

د څېړنې پوښتنې په لاندې ډول دي:

۱. د سیدآباد ولسوالی د شنیز درې د ښوونې او روزنې کیفیت د اوسني و ضعیت له مخې څنګه ارزول کېږي؟
۲. په سیدآباد ولسوالی کې ښوونځیو ته د زده‌کوونکو د لاسرسي وضعیت څنګه دی
۳. د ښوونکو د مسلکي وړتیا او ښوونیز کیفیت ترمنځ څه ډول اړیکه شتون لري؟
۴. د زده‌کوونکو د اقتصادي و ضعیت او د هغوی د ښوونیز دوام ترمنځ څه ډول اړیکه شتون لري؟
۵. د کورنۍ ملاتړ او د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام ترمنځ څه ډول اړیکه شتون لري؟
٦. د ټولنیزو عواملو او د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام ترمنځ څه ډول اړیکه شتون لري؟
۷. د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ ترمنځ څه ډول اړیکه شتون لري؟
۸. د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي لپاره کومې عملي او پر شواهدو ولاړې لارې چارې وړاندیز کېدای شي؟

د څېړنې نظري بنسټ او مخینه

د افغانستان، په ځانګړې توګه د کلیوالي سیمو د ښوونې او روزنې د کیفیت په اړه په تېرو کلونو کې بېلابېلې څېړنې او راپورونه ترسره شوي دي. د دغو مطالعاتو ډېری پایلې

څرګندوي چې د ښوونیز کیفیت ستونزه یوازې په یوه عامل پورې محدوده نه ده، بلکې د ښوونیزو زېرښاوو، د ښوونکو د مسلکي وړتیا، اقتصادي و ضعیت، ټولنیزو لیدلورو او د زده کوونکو ښوونځي ته د لاسرسي په ګډون له څو متقابلو عواملو سره تړاو لري.

احمدي (۲۰۱۸، ۴۵ مخ) په افغانستان کې د کلیوالي سیمو د ښوونې او روزنې د و ضعیت په اړه په خپله څېړنه کې د تعلیمي بنسټونو کمزوري، د امکاناتو نشتوالی او اقتصادي ستونزې د زده‌کړې د کیفیت له مهمو خنډونو څخه ګڼلي دي. د نومورې د څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د کلیوالي سیمو پر تعلیمي ستونزو تمرکز کوي؛ خو د متغیرونو ترمنځ د اړیکو په اړه یې پراخ احصائیوي تحلیل نه دی وړاندې کړی.

په همدې ډول، هاشمي (۲۰۲۰، ۵۲ مخ) د ښوونکو د مسلکي وړتیا پر اهمیت ټینګار کړی او دې پایلې ته رسېدلی چې د ښوونکو د مسلکي روزنې کموالی د تدریس پر کیفیت او د زده‌کوونکو پر علمي لاسته راوړنو منفي اغېز لري. د دې څېړنې موندنې د ښوونکو د مسلکي ظرفیت اهمیت په ښه ډول څرګندوي؛ خو د ښوونیز کیفیت له نورو ټولنیزو او اقتصادي عواملو سره یې ګډ او څو اړخیز تحلیل محدود دی.

د پوهنې وزارت (۲۰۱۹، ۳۴ مخ) په خپل راپور کې هم ښودلې چې په لرې پرتو او کلیوالي سیمو کې د مسلکي روزل شویو ښوونکو کمښت د تدریس کیفیت او د زده‌کوونکو د زده‌کړې پر پایلو منفي اغېز لري. دغه راپور د ښوونکو د مسلکي و ضعیت په اړه پراخ معلومات وړاندې کوي، خو زیاتره په ملي او عمومي کچه متمرکز دی او د سیدآباد ولسوالۍ یا د شنیز درې په څېر ځانګړو سیمو لپاره جلا او دقیق احصائیوي تحلیل نه وړاندې کوي.

همدارنګه، غني (۲۰۱۷، ۲۹ مخ) په خپله سیمه‌ییزه څېړنه کې دې پایلې ته رسېدلی چې امنیتي ستونزې، د ښوونځیو اوږدې فاصلې او د ترانسپورتي امکاناتو نشتوالی د زده‌کوونکو پر منظم حضور او د زده‌کړې پر دوام منفي اغېز لري. د نومورې څېړنه د ښوونځي د لاسرسي ستونزې په څرګند ډول بیانوي؛ خو اقتصادي و ضعیت، کورنی ملاتړ، ټولنیز لیدلوري او د ښوونکو مسلکي وړتیاوې یې په یوه واحد تحلیلي چوکاټ کې نه دي ارزولي.

د دغو داخلي مطالعاتو له تحلیلي ارزونې څخه څرګندیږي، چې د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د ښوونې او روزنې د کیفیت په اړه موجودې څېړنې د ستونزې مهم اړخونه روښانه کوي؛ خو دېرې یې یا پر یوه ځانګړي عامل تمرکز لري او یا په ملي او ولایتي کچه عمومي تحلیل وړاندې کوي. له همدې املې، د ولسوالۍ او مشخصې سیمې په کچه د ښوونیز کیفیت د بېلابېلو عواملو ترمنځ د اړیکو احصائیوي تحلیل لا هم محدود ښکاري.

د موجودو مطالعاتو له مخې د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز درې د ښوونې او روزنې د کیفیت په اړه منظمه او کمې څېړنه نه ترسترګو کېږي، چې د زده‌کوونکو ښوونځي ته لاسرسی، د ښوونکو مسلکي وړتیا، اقتصادي و ضعیت، کورنی ملاتړ، ټولنیز عوامل او د نجونو د زده‌کړې ملاتړ په یو واحد تحلیلي چوکاټ کې وارزوي.

له داخلي مطالعاتو وروسته، نړیوالو څېړنو هم د کلیوالي سیمو د ښوونیز کیفیت په اړه مهمې پایلې وړاندې کړې دي. هانوشک او ویسمان (۲۰۱۲) استدلال کوي چې د ښوونکو کیفیت د زده‌کوونکو د علمي لاسته راوړنو له مهمو ټاکونکو څخه دی. د دوی د څېړنې له مخې، یوازې د ښوونکو شمېر زیاتوالی د ښوونیز کیفیت د لوړوالي لپاره بسنه نه کوي، بلکې د هغوی مسلکي وړتیا، تدریسي مهارتونه او د زده‌کړې کیفیت اساسي اهمیت لري.

په همدې ډول، دارلینګ ـ هاموند (۲۰۱۷) په خپلو مطالعاتو کې څرګنده کړې، چې د ښوونکو مسلکي روزنه او دوامداره مسلکي پرمختګ د تدریس له کیفیت سره نږدې اړیکه لري. د نومورې موندنې د هاشمي (۲۰۲۰) او د پوهنې وزارت (۲۰۱۹) له پایلو سره ورته والی لري، ځکه دواړه داخلي او بهرني مطالعات د ښوونکو مسلکي وړتیا د ښوونیز کیفیت له مهمو عواملو څخه ګڼي. خو توپیر دا دی چې نړیوالې څېړنې زیاتره په پراخو تعلیمي سیستمونو تمرکز کوي، په داسې حال کې چې اوسنۍ څېړنه دا مو ضوع د شنیز درې د سیمه‌ییزو شرایطو په رڼا کې ارزوي.

باراکات او همکارانو (۲۰۱۳) د شخړو ځپلو او ټیټ عاید لرونکو هېوادونو په اړه په خپلو مطالعاتو کې ښودلې چې اقتصادي بېثباتي، ناامني او ټولنیز فشارونه د زده‌کوونکو پر منظم حضور او د زده‌کړې پر دوام منفي اغېز لري. ورته، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق یا یونیسف (۲۰۲۲) راپور ورکوي، چې په لرې پرتو سیمو کې اقتصادي ستونزې، اوږدې فاصلې او محدود امکانات د زده‌کوونکو د ښوونځي پرېښودو او غیرمنظم حضور له مهمو عواملو څخه دي.

د دغو نړیوالو موندنو په پرتله، اوسنۍ څېړنه هڅه کوي، چې د اقتصادي و ضعیت او ښوونیز دوام ترمنځ اړیکه د احصائیوي تحلیل له لارې په سیمه‌ییزه کچه و ارزوي. په دې توګه نړیوال ادبیات د ستونزې عمومي چوکاټ وړاندې کوي، خو اوسنۍ ارزونه د همدې موضوع د شنیز درې له واقعي او سیمه‌ییز وضعیت سره د تطبیق هڅه کوي.

د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې په برخه کې هم بېلابېلو مطالعاتو مهمې موندنې وړاندې کړې دي. اسلم او کینګډن (۲۰۱۱) د جنوبي آسیا په هېوادونو کې موندلې چې ټولنیز او جنسیتي نورمونه د نجونو د ښوونځي پر ګډون او د زده‌کړې پر دوام مستقیم اغېز لري. په ورته ډول، نړیوال بانک (۲۰۲۱) ټینګار کوي چې په محافظه‌کارو ټولنو کې د کورنۍ فرهنګي لیدلوري او ټولنیز ارزښتونه د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ په کچه اغېز کوي.

د دغو نړیوالو مطالعاتو مهمه ځانګړنه دا ده، چې جنسیتي او فرهنګي عوامل د ښوونې او روزنې له ټولنیز چاپېریال سره تړي؛ خو د افغانستان او په ځانګړې توګه د سیدآباد ولسوالۍ په کچه د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ ترمنځ د اړیکې په اړه کمي او احصائیوي شواهد محدود دي. له همدې امله، اوسنۍ ارزونه هڅه کوي چې دغه اړیکه د ګډونوالو د معلوماتو او احصائیوي تحلیل پر بنسټ و ارزوي.

په ټولیز ډول، د داخلي او بهرنیو مطالعاتو انتقادي تحلیل څرګندوي چې د ښوونیز کیفیت په اړه پخوانیو څېړنو د ښوونکو مسلکي وړتیا، ښوونځي ته لاسرسی، اقتصادي و ضعیت، ټولنیز چاپېریال او جنسیتي لیدلوري د مهمو عواملو په توګه پېژندلي دي. خو د دغو مطالعاتو یوه مهمه محدودیت دا دی چې ډېری یې یا یوازې پر یوه ځانګړي عامل تمرکز کوي او یا په پراخه ملي او نړیواله کچه ترسره شوي دي.

له همدې امله، د اوسنۍ څېړنې علمي تشه او نوښت په دې کې دی، چې د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز درې د ښوونې او روزنې کیفیت د څو مشخصو او جلا عواملو له مخې ارزوي. په دې څېړنه کې د زده‌کوونکو ښوونځي ته لاسرسی، د ښوونکو مسلکي وړتیا، اقتصادي و ضعیت، کورنۍ ملاتړ، ټولنیز عوامل او د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ اړیکه په جلا او احصائیوي ډول تحلیل کېږي.

په دې توګه، اوسنۍ ارزونه هڅه کوي چې د پخوانیو داخلي او بهرنیو مطالعاتو له موندنو څخه په ګټې اخیستنې، د شنیز درې د ښوونیز و ضعیت په اړه سیمه‌ییز او د شواهدو پر

بنسټ تحلیل وړاندې کړي. د څېړنې موندنې کولای شي د سیمې د ښوونې او روزنې د کیفیت د ستونزو په ښه درک، د لومړیتوبونو په ټاکلو او د عملي او واقعبینانه پالیسی او پروګرامونو په جوړولو کې مرسته وکړي.

د څېړنې کړنلاره

دا څېړنه د کمي څېړنیز میتود پر بنسټ ترسره شوې ده، د دې څېړنې احصائیوي ټولنه د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز درې اړوند زده‌کوونکي، رسمي ښوونکي، د زده‌کوونکو والدین او قومي او ټولنیز مشران تشکیلوي. د ولسوالۍ د پوهنې آمریت د رسمي احصائیو له مخې، په شنیز دره کې ټول (۸۱) ښوونځي، (۴۱۰۰۰) زده کوونکي او (۸۶۵) ښوونکي موجود دي. (د سیدآباد ولسوالۍ د پوهنې آمریت)

سربېره پر دې د زده‌کوونکو والدین او قومي او ټولنیز مشران هم د څېړنې د مو ضوع اړوند د معلوماتو د برابرولو له امله د څېړنې په احصائیوي ټولنه کې شامل شوي دي.

د څېړنې له احصائیوي ټولنې څخه ټولټال ۲۰۰ تنه د څېړنې د نمونې په توګه انتخاب شوي دي. د نمونې اندازه د څېړنې د مو ضوع، د احصائیوي ټولنې د جوړښت، د څېړنې د امکاناتو او وخت، او د معلوماتو د راټولولو د عملي شرایطو په پام کې نیولو سره ټاکل شوې ده.

په نمونه کې ۶۴ تنه زده‌کوونکي، ۵۸ تنه رسمي ښوونکي، ۲۸ تنه والدین او ۵۰ تنه قومي او ټولنیز مشران شامل دي. زده‌کوونکي د شنیز درې د ښوونځیو برحاله زده‌کوونکي، ښوونکي رسمي تدریسي تجربه لرونکي کسان، والدین د همدغو زده‌کوونکو د کورنیو غړي، او قومي او ټولنیز مشران هغه کسان وو چې د سیمې له ښوونیز و ضعیت سره یې عملي بلدتیا لرله.

د نمونې د انتخاب لپاره هدفمنده نمونه اخیستنه (Purposive Sampling) کارول شوې ده؛ ځکه چې د څېړنې مو ضوع تخصصي او سیمه‌ییزه ده او د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره داسې ګډونوالو ته اړتیا وه چې له ښوونې او روزنې سره مستقیمه اړیکه او د شنیز درې د ښوونیز وضعیت په اړه کافي تجربه او معلومات ولري.

د څېړنې د ترسره کولو په لومړي پړاو کې له اړوندو ادارو څخه د معلوماتو د راټولولو لپاره رسمي اجازه ترلاسه شوه. وروسته د څېړنې له معیارونو سره سم ګډونوال وټاکل شول او

پوښتنليکونه د هغوی په اختيار کې ورکړل شول. له بشپړېدو وروسته پوښتنليکونه راټول، وکتل شول او کوډ شول او د احصائيوي تحليل لپاره د SPSS Version 26 سافټوير ته داخل شول. وروسته راټول شوي معلومات د څېړنې د اهدافو او پوښتنو له مخې تحليل او تفسير شول.

د معلوماتو د راټولولو اصلي وسيله د پينځه درجه يي ليکرټ مقياس پر بنسټ جوړ شوی پوښتنليک و. پوښتنليک د څېړنې د اهدافو، پوښتنو او اړوندو علمي ادبياتو پر بنسټ ترتيب شوی دی.

پوښتنليک په ټولیز ډول ٦ مؤلفې او ۲۵ پوښتنې درلودې، چې په لاندې ډول تنظيم شوې دي:

۱ جدول: الفاکرانباخ کتنې

شمېره	مؤلفه	د پوښتنو شمېر	الفاکرانباخ کتنې
۱	د زده‌کوونکو ښوونځيو ته لاسرسی	5	0.79
۲	د ښوونکو مسلکي وړتيا او ښوونيز کيفيت	4	0.81
۳	اقتصادي وضعيت	٤	0.77
۴	کورنی ملاتړ	٤	0.84
۵	ټولنيز عوامل او ښوونيز دوام	٤	0.80
٦	جنسيت او د نجونو د زده‌کړې ملاتړ	٤	0.78
مجموعه		**25**	**0.82**

د پوښتنليک ټولې پوښتنې د ليکرټ د پينځه‌درجه‌يي مقياس پر بنسټ تنظيم شوې دي، څو د ګډونوالو نظرونه په کميتي بڼه اندازه او د احصائيوي تحليل لپاره مناسب معلومات برابر شي.

په پوښتنليک کې د ښوونې او روزنې د کيفيت د ارزونې لپاره د روايي (Validity) او اعتبار (Reliability) دواړو مو ضوعاتو ته پاملرنه شوې ده. د روايي له پلوه د پوښتنليک صوري روايي، جوړښتي روايي او محتوايي روايي ارزول شوې ده. د صوري روايي لپاره د پوښتنليک پوښتنې د ژبې، و ضاحت، د پوښتنو د ترتيب او د ګډونوالو د درک له پلوه ارزول شوې دي. د محتوايي روايي لپاره د څېړنې اړوند علمي ادبيات، د څېړنې اهداف او

پوښتنې د پوښتنليک له محتوا سره پرتله شوي او د اړوند پوهنتون د استادانو د نظرونو څخه استفاده شوې ده. د جوړښتي روايي د ارزونې لپاره د پوښتنليک د مؤلفو او اړوندو متغيرونو ترمنځ مفهومي اړيکې په پام کې نيول شوې دي.

د پوښتنليک د داخلي ثبات د ارزونې Pilot Test ترسره شوی او پوښتنليک پر ۵۰ تنو ګډونوالو په آزمايښتي ډول تطبيق شوی دی. د آزمايښتي تطبيق پايلو ښودلې چې د پوښتنليک د داخلي ثبات کچه Cronbach's Alpha = 0.82 ده،. د ټول ۲۵ پوښتنو لپاره د Cronbach's Alpha ضريب 0.82 ترلاسه شو، چې د پوښتنليک د داخلي ثبات د منلو وړ کچه څرګندوي. د مؤلفو په کچه د Cronbach's Alpha ضريبونه د ۰,۷۷ څخه تر ۰,۸٤ پورې وو، چې د ټولو مؤلفو د پوښتنو د مناسب داخلي ثبات ښکارندويي کوي.

راټول شوي معلومات د SPSS Version 26 سافټوير په وسيله تحليل شول. د ګډونوالو د ځانګړتياوو او د څېړنې د متغيرونو د عمومي وضعيت د معلومولو لپاره له توصيفي احصائيې، لکه فريکونسي، سلنه، اوسط او معياري انحراف څخه استفاده وشوه.

د متغيرونو ترمنځ د اړيکو د معلومولو لپاره د څېړنې د پوښتنو او د معلوماتو د نوعيت له مخې له Pearson Correlation او Chi-Square Test څخه استفاده وشوه. د Chi-Square آزمويښت له لارې د کټګوريو ترمنځ اړيکې، او د Pearson Correlation له لارې د کميتي متغيرونو ترمنځ د اړيکې شدت او جهت و ارزول شو.

موندنې

د څېړنې کميتي تحليل وښودله، چې د 200 ګډونوالو څخه ۷۲٪ نارينه او ۲۸٪ ښځينه وو. د ښوونځي د لاسرسي په برخه کې ٦۵٪ ګډونوالو منظم لاسرسی تاييد کړ، خو ۳۵٪ ګډونوالو د زيربنايي او خوندیتوب ستونزو له املې محدوديتونه راپور کړل. د ښوونکو مسلکي وړتيا ټيټه کچه لري، ځکه يوازې ٤۰٪ ښوونکي رسمي روزنه لري. د Chi-Square ازمويني پايلې ښيي چې د جنسيت او د نجونو د ښوونه ملاتړ ترمنځ معنی لرونکی ارتباط موجود دی ($p < 0.05$). همدارنګه د اقتصادي و ضعيت او د زده کړې دوام ترمنځ متوسط مثبت ارتباط مشاهده شو ($r = 0.46, p < 0.01$). دا موندنې ښيي چې ښوونيز ستونزې څو اړخيزه بڼه لري او ټولنيز، اقتصادي او خوندیتوب عوامل په ګډه اغېز لري.

د نمونې عمومي ځانګړتياوې (فريکونسي تحليل)

په دې څېړنه کې ټولټال ۱۰۰ تنه ګډونوال شامل وو. له دې جملې څخه ۱۴۴ تنه (۷۲٪) نارينه او ۵۶ تنه (۲۸٪) ښځينه وو. د جنسيتي توزيع تفصيلي معلومات په ۱جدول کې وړاندې شوي دي.

۲جدول: د ګډونوالو جنسيتي توزيع

جنسيت	فريکونسي	سلنه(%)
نارينه	144	72%
ښځينه	56	28%
ټولټال	200	100%

ښوونځي ته لاسرسی

د ښوونځي د لاسرسي په اړه معلومات ښيي چې ۱۳۰ تنه ګډونوالو (٦۵٪) منظم لاسرسی تاييد کړی، حال دا چې ۷۰ تنه ګډونوالو (۳۵٪) د زيربنايي، ترانسپورتي او امنيتي محدوديتونو له املې د لاسرسي ستونزې راپور کړې دي. اړوند معلومات په ۲جدول کې وړاندې شوي دي.

۳جدول: د ښوونځی د لاسرسي وضعيت

وضعيت	فريکونسي	سلنه(%)
منظم لاسرسی	130	65%
محدود لاسرسی	70	35%
ټول	200	100%

د ښوونکو مسلکي وړتيا

د معلوماتو له مخې يوازې ۸۰ تنه ښوونکي (۴۰٪) رسمي مسلکي روزنه لري، حال دا چې ۱۲۰ تنه (٦۰٪) بشپړ مسلکي روزنه نه لري. اړوند معلومات په ۳جدول کې وړاندې شوي دي.

۴جدول: *د ښوونکو مسلکي روزنه*

وضعيت	فريکونسي	سلنه(%)
مسلکي روزل شوي	80	40%
غير مسلکي / نيمه مسلکي	120	60%

ټول	۲۰۰	100%

۵ جدول: جنسیت او د نجونو د ښوونې ملاتړ

ازموینه	ارزښت
$\chi^2(1, N = 200)$	6.41
Df	1
p-value	.011
Cramer's V	.253

Crosstab تحلیل ښیي چې د ښځینه ګډونوالو ترمنځ د نجونو د ښوونې ملاتړ لوړه کچه (۸۹٪) وه، حال دا چې د نارینه وو ترمنځ دا کچه ۶۷٪ وه.

دوه اړخیز جدول تحلیل (Crosstab Analysis)

Gender × Support for Girls' Education

۶ جدول: *د جنسیت او د نجونو دښوونې ملاتړ دوه اړخیز تحلیل*

جنسیت	د نجونو د زده‌کړې ملاتړ (هو)	د نجونو د زده‌کړې ملاتړ (نه)	ټول
نارینه(n=144)	۹۶	۴۸	۱۴۴
ښځینه (n=56)	۵۰	۶	۵۶
ټول	۱۴۶	۵۴	۲۰۰

همدارنګه د کای-مربع آزموینې (Chi-Square Test) پایلې ښیي چې د جنسیت او د نجونو د ښوونې ملاتړ ترمنځ احصائیوي معنی لرونکی ارتباط موجود دی .($p < 0.05$) دا پایله په ۴ جدول کې وړاندې شوې ده.

دا پایله څرګندوي چې جنسیت د نجونو د ښوونې د ملاتړ له کچې سره معنی لرونکی ارتباط لري او د اغیز اندازه متوسطه ده.

اقتصادي وضعیت، د کورنۍ ملاتړ او د زده کړو دوام

د همبستګۍ تحلیل (Correlation Analysis) یا د پرسون تحلیل ښیي چې د اقتصادي وضعیت، د کورنۍ ملاتړ او د زده کړې دوام ترمنځ متوسط مثبت ارتباط موجود. ($r = 0.46$, $p < 0.1$) او همدارنګه د کورني ملاتړ او د زده کړې د دوام یعني حاضري ترمنځ هم مثبته اړیکه وجود لري ($r = .42$, $p < .01$) اړوند معلومات په ۵جدول(ماتریکس) کې وړاندې شوي دي.

۶جدول: *د اقتصادي وضعيت، د کورنۍ د ملاتړ او د زده کړې دوام ترمنځ ارتباط*

متغيرونه	۱	۲	۳
اقتصادي وضعيت	—	۳۹.	٤٦.
کورنی ملاتړ	۳۹.	—	٤۲.
حاضري او ښوونيز دوام	٤٦.	٤۲.	—

تشريحي احصائيې (Descriptive Statistics) پايلې ښيي چې د ګډونوالو د اقتصادي وضعيت اوسط نمره (M = 2.84, SD = 0.91) وه، چې د ټيټې او منځنۍ کچې اقتصادي شرايط څرګندوي. د اونيز حضور اوسط ٤,۱۲ ورځې (SD = 1.18) و، چې نسبي منظم ګډون څرګندوي. همدارنګه د ګډونوالو منځنی عمر ۱۷,٦۳ کاله (SD = 1.94) ثبت شوی دی.

Descriptive Statistics of Key Quantitative Variables (N = 100).

۷جدول: *د کميتي متغيرونو تشريحي احصائيه*

متغير (Variable)	اوسط (Mean)	معياري انحراف (SD)	ټيټ (Min)	لوړ (Max)
اقتصادي وضعيت (۱–۵)	2.84	0.91	1	5
د ښوونځي حاضري (ورځې/اونۍ)	4.12	1.18	1	6
عمر (کلونه)	17.63	1.94	15	21



۱شکل: *د موندنو د سلنو کليدي لنډيز*

مناقشه

د دې څېړنې اساسي موخه د ميدان وردګو ولايت د سيدآباد ولسوالۍ د شنيز درې د ښوونې او روزنې د کيفيت د اوسني و ضعيت ارزونه او د هغه د اغېزمنو عواملو پېژندنه وه. په څېړنه کې د کمي ميتود څخه استفاده شوې او د ۲۰۰ ګډونوالو معلومات د پوښتنليک له لارې

راټول او د SPSS سافټویر په وسیله تحلیل شوي دي. د څېړنې موندنې ښیي چې د ښوونې او روزنې کیفیت یوازې په یوه عامل پورې تړلی نه دی، بلکې د ښوونځیو لاسرسی، د ښوونکو مسلکي وړتیا، اقتصادي و ضعیت، کورنی ملاتړ، ټولنیز عوامل او د نجونو د زده‌کړې په اړه ټولنیز لیدلوري د ښوونیز وضعیت په جوړولو کې مهم رول لري.

ښوونځیو ته د زده‌کوونکو د لاسرسي وضعیت

د لومړی فرعي پوښتنې له مخې په سیدآباد ولسوالی کې ښوونځیو ته د زده‌کوونکو د لاسرسي و ضعیت څنګه دی؟ د څېړنې موندنې ښیي چې ٦٥ سلنه ګډونوالو ښوونځیو ته منظم لاسرسی درلود، په داسې حال کې چې ۳۵ سلنه ګډونوالو د ښوونیزو زیربناوو، ترانسپورتي ستونزو او امنیتي محدودیتونو له امله د ښوونځیو د لاسرسي په برخه کې ستونزې لرلې.

دغه موندنه څرګندوي، چې په کلیوالو سیمو کې یوازې د ښوونځي موجودیت د زده‌کوونکو د منظم ګډون او د ښوونې د کیفیت لپاره بسنه نه کوي؛ بلکې مناسبې زیربناوې، د تګ راتګ اسانتیا، خوندي ښوونیز چاپېریال او دوامدار لاسرسی هم اړین دي. د یونیسکو (۲۰۲۲) د راپورونو له موندنو سره هم دا پایله همغږي لري، چې په لرې پرتو سیمو کې د فزیکي لاسرسي او چاپېریالي ستونزې د زده‌کوونکو پر منظم حضور او ښوونیز پرمختګ اغېز کوي.

له همدې امله، د دې پوښتنې په ځواب کې ویلای شو چې په شنیز دره کې ښوونځیو ته لاسرسی په نسبي ډول موجود دی، خو د پام وړ شمېر زده‌کوونکي لا هم له محدود لاسرسي سره مخ دي، چې دا و ضعیت د ښوونې او روزنې د کیفیت پر ښه والي اغېز کولای شي.

د ښوونکو د مسلکي وړتیا او ښوونیز کیفیت ترمنځ اړیکه

د دویمې فرعي پوښتنې موخه دا وه چې معلومه شي د ښوونکو مسلکي وړتیا له ښوونیز کیفیت سره څه ډول اړیکه لري. د څېړنې موندنې ښیي چې یوازې ۴۰ سلنه ښوونکي رسمي مسلکي روزنه لري، په داسې حال کې چې ٦۰ سلنه ښوونکي له کافي مسلکي روزنې څخه بېبرخې یا نیمه مسلکي دي.

دا و ضعیت څرګندوي چې د ښوونکو مسلکي وړتیا د ښوونې او روزنې د کیفیت له مهمو تاکونکو عواملو څخه ده. مسلکي روزل شوی ښوونکی کولای شي د تدریس له معیاري طریقو، مناسبې ارزونې، زده‌کوونکي‌محورې تګلارې او درسي موادو څخه اغیزمنه استفاده وکړي. برعکس، د مسلکي روزنې کمښت کولای شي د تدریس پر کیفیت او د زده‌کوونکو پر زده‌کړیزو پایلو منفي اغیز وکړي.

د هاشمي (۲۰۲۰) موندنې هم ښیي چې د ښوونکو دوامداره مسلکي پرمختګ د تدریس او د زده‌کوونکو د علمي لاسته راوړنو له مهمو عواملو څخه دی. همدارنګه (هانوشیک و ووسنمن، ۲۰۱۵) همدارنګه د ښوونکي کیفیت د زده‌کوونکو د زده‌کړې له مهمو تاکونکو څخه ګڼي.

په دې اساس، د دویمې پوښتنې په ځواب کې ویلای شو چې د ښوونکو مسلکي وړتیا د ښوونیز کیفیت له مهمو عواملو څخه ده او په شنیز دره کې د مسلکي روزنې ټیټه کچه د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړولو پر وړاندې یوه مهمه ننګونه ده.

د زده‌کوونکو د اقتصادي وضعیت او ښوونیز دوام اړیکه

د درېیمې فرعي پوښتنې له مخې د زده‌کوونکو اقتصادي و ضعیت د هغوی پر ښوونیز دوام څه ډول اغیز لري؟ د پیرسون همبستګې تحلیل پایلې ښیي چې د اقتصادي و ضعیت او ښوونیز دوام ترمنځ منځنۍ مثبته اړیکه موجوده ده.($r = 0.46, p < 0.01$)

دا پایله څرګندوي چې هر څومره د کورنۍ اقتصادي و ضعیت ښه وي، په هماغه اندازه د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام او منظم حضور زمینه هم ښه کېدای شي. اقتصادي ستونزې کولای شي د زده‌کوونکو پر ښوونیزو اړتیاوو، درسي موادو، ترانسپورټ او نورو اړینو لګښتونو اغیز وکړي او په پایله کې د زده‌کړې د دوام پر وړاندې خنډونه رامنځته کړي.

دغه موندنه د بشري پانګې له نظریې سره همغږي لري، څکه د دې نظریې له مخې د تعلیم په برخه کې د کورنۍ او ټولنې پانګونه د انساني وړتیاوو او راتلونکو فرصتونو په رامنځته کولو کې مهمه ونډه لري.(نړۍ وال بانک، ۲۰۲۱)

نو د درېیمې پوښتنې په ځواب کې ویلای شو چې د زده‌کوونکو اقتصادي و ضعیت د هغوی له ښوونیز دوام سره د پام وړ مثبت ارتباط لري او اقتصادي ستونزې د زده‌کړې د دوام پر وړاندې د احتمالي خنډونو له ډلې څخه دي.

د کورنۍ ملاتړ او ښوونیز دوام اړیکه

د څلورمې فرعي پوښتنې موخه د کورنۍ ملاتړ او د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام ترمنځ د اړیکې معلومول وو. د څېړنې د همبستګۍ تحلیل له مخې د کورنۍ ملاتړ او ښوونیز دوام ترمنځ هم مثبته اړیکه موجوده ده.(r = 0.42)

دغه موندنه څرګندوي، چې د کورنۍ ملاتړ د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام لپاره مهم ټولنیز عامل دی. هغه کورنۍ چې خپلو ماشومانو ته د زده‌کړې په برخه کې لازم ملاتړ، هڅونه او مناسب چاپېریال برابروي، کولای شي د هغوی د منظم حضور او زده‌کړې د دوام زمینه پیاوړې کړي.

د دې موندنې له مخې، د زده‌کوونکو ښوونیزه بریا یوازې د ښوونځي او ښوونکي په فعالیت پورې محدوده نه ده، بلکې کورنۍ هم د زده‌کړې په بهیر کې مهمه ونډه لري. له همدې امله، د ښوونیز کیفیت د ښه والي لپاره باید کورنۍ د ښوونځي له فعالیتونو سره لا زیاته همکاري وکړي.

د ټولنیزو عواملو اغېز پر ښوونیز دوام

د پینځمې فرعي پوښتنې له مخې، ټولنیز عوامل د زده‌کوونکو پر ښوونیز دوام څه ډول اغېز لري؟ د څېړنې موندنې ښیي چې د ټولنیز چاپېریال، کورنۍ لیدلوري او فرهنګي ارزښتونو و ضعیت د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام او په ځانګړې توګه د نجونو د زده‌کړې له ملاتړ سره تړاو لري.

په دودیزو او کلیوالو ټولنو کې د زده‌کړې په اړه د کورنۍ او ټولنې لیدلوری د ماشومانو د ښوونیز مسیر په ټاکلو کې مهم رول لري. که ټولنیز چاپېریال د زده‌کړې ملاتړ وکړي، د زده‌کوونکو د ښوونیز دوام زمینه پیاوړې کېږي؛ خو که منفي ټولنیز یا فرهنګي لیدلوري موجود وي، د زده‌کړې پر وړاندې خنډونه رامنځته کېدای شي.

له همدې امله، د ښوونیز کیفیت د لوړولو ترڅنګ د ټولنې د پوهاوي لوړول او د ښوونیز بهیر په اړه د کورنیو او ټولنیزو مشرانو مثبت مشارکت هم مهم ګڼل کېږي.

د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ ترمنځ اړیکه

د شپږمې فرعي پوښتنې له مخې، د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ ترمنځ څه ډول اړیکه شتون لري؟ د دوه‌اړخیز جدول تحلیل ښیي چې د نارینه ګډونوالو له ډلې ۹۶ تنو او د ښځینه ګډونوالو له

ډلې ۵۰ تنو د نجونو د زده‌کړې ملاتړ کړی دی. د کای ـ مربع (Chi-Square) ازموینې پایلې هم ښیي چې د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ ترمنځ احصائیوي معنا لرونکې اړیکه شتون لري ($\chi^2(1, N=200) = 6.41, df = 1, p = 0.011, Cramer's V = 0.253$).

دغه موندنه ښیي چې د نجونو د زده‌کړې په اړه لیدلوري د جنسیت له متغیر سره اړیکه لري. په ځانګړې توګه، ښځینه ګډونوالو د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ لوړه کچه ښودلې ده. دا و ضعیت څرګندوي چې د نجونو د زده‌کړې د پراختیا لپاره یوازې ښوونیز امکانات کافي نه دي، بلکې د ټولنیزو او فرهنګي لیدلورو، عامه پوهاوي او د کورنیو د ملاتړ پیاوړتیا هم اړینه ده.

د سعید (۲۰۱۹) د موندنو له مخې هم په دودیزو ټولنو کې د نجونو د زده‌کړې ملاتړ د کورنۍ له فرهنګي لیدلوري او ټولنیزو ارزښتونو سره اړیکه لري. له همدې امله، د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ لپاره د کورنیو، قومي مشرانو او ټولنې د پوهاوي لوړول مهم دي.

د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي لارې چارې

د اوومې فرعي پوښتنې له مخې، د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي لپاره کومې عملي او پر شواهدو ولاړې لارې چارې وړاندیز کېدای شي؟ د څېړنې د موندنو پر بنسټ، د ښوونکو مسلکي روزنه، د ښوونیزو زیربناوو پیاوړتیا، ښوونځیو ته د زده‌کوونکو د لاسرسي اسانتیا، د کورنیو اقتصادي او ټولنیز ملاتړ پیاوړتیا او د نجونو د زده‌کړې په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه هغه مهم اقدامات دي چې د ښوونې او روزنې د کیفیت په ښه والي کې مرسته کولای شي.

په ځانګړې توګه، د مسلکي ښوونکو د کمښت له امله اړینه ده چې د ښوونکو لپاره د دوامدارې مسلکي ودې او روزنې پروګرامونه پیاوړي شي. همدارنګه، د ښوونیزو زیربناوو پراختیا او د زده‌کوونکو لپاره د خوندي او مناسب ښوونیز چاپېریال برابرول باید د تعلیمي پالیسۍ له لومړیتوبونو څخه وي.

د اصلي پوښتنې ځواب

د اصلي پوښتنې، یعنې «د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز درې د ښوونې او روزنې کیفیت د اوسني و ضعیت له مخې څنګه ارزول کېږي؟» په ځواب کې ویلای شو چې د شنیز درې ښوونیز و ضعیت د نسبي لاسرسي له شتون سره سره له یو شمېر مهمو ننګونو سره مخ دی. د

مسلکي ښوونکو کمښت، د ښوونیزو امکاناتو محدودیت، اقتصادي ستونزې، د کورنۍ ملاتړ، ټولنیز چاپیریال او د نجونو د زده‌کړې په اړه لیدلوري هغه مهم عوامل دي چې د ښوونې او روزنې پر کیفیت او ښوونیز دوام اغیز لري. له همدې امله، د سیمې د ښوونیز کیفیت د ښه والي لپاره د دغو عواملو ګډ او همغږی مدیریت اړین دی.

پایله اخیستنه

د دې څېړنې د موندنو، احصائیوي تحلیلونو او د څېړنې د پوښتنو د ځوابونو پر بنسټ پایله اخیستل کېږي، چې د میدان وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز درې د ښوونې او روزنې کیفیت یو څو اړخیز و ضعیت لري او د کیفیت د ارزونې پر مهال باید یوازې د ښوونځیو شتون او د زده‌کوونکو د شمېر په څېر په ظاهري شاخصونو بسنه ونه شي. د څېړنې پایلې څرګندوي چې ښوونیز کیفیت، ښوونځیو ته لاسرسي، د ښوونکو مسلکي وړتیا، د زده‌کوونکو اقتصادي و ضعیت، د کورنۍ ملاتړ، ټولنیزو عواملو او د نجونو د زده‌کړې په اړه د ټولنې د لیدلورو له متقابل وضعیت سره تړاو لري.

د څېړنې له عمومي تحلیل څخه څرګندېږي، چې د شنیز درې د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي لپاره د یوې واحدې حلارې پر ځای د څو اړخیزو اقداماتو اړتیا شته. د ښوونکو مسلکي وړتیا، د زده‌کوونکو د زده‌کړې دوام، اقتصادي شرایط او ټولنیز ملاتړ هغه برخې دي چې د ښوونیز کیفیت د پیاوړتیا په هره سیمه‌ییزه تګلاره کې باید په ګډه په پام کې ونیول شي.

د څېړنې د احصائیوي تحلیلونو له مخې د اقتصادي و ضعیت او ښوونیز دوام ترمنځ مثبت ارتباط د دې څرګندونه کوي چې اقتصادي شرایط د زده‌کوونکو د زده‌کړې په دوام کې مهم رول لري. له همدې امله، د ښوونیز کیفیت د لوړولو پالیسي باید د اقتصادي ستونزو د کمولو او له اړمنو زده‌کوونکو او کورنیو څخه د ملاتړ اړخ هم په پام کې ونیسي. همدارنګه، د کورنۍ ملاتړ له ښوونیز دوام سره د مثبتې اړیکې شتون دا څرګندوي، چې د زده‌کوونکي ښوونیزه بریا یوازې د ښوونځي له فعالیتونو سره نه محدودېږي، بلکې د کورنۍ ملاتړ هم د زده‌کړې د دوام له مهمو شرایطو څخه دی.

د جنسیت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ ترمنځ د احصائیوي اړیکې موندل دا څرګندوي چې د نجونو د زده‌کړې مو ضوع له ټولنیزو او فرهنګي لیدلورو سره تړاو لري. له همدې

املـه، د نجونـو د زده‌کـړې د پراختيـا لپـاره يـوازې د ښـوونځيو او ښـوونيزو امکانـاتو زيـاتول کـافي نـه دي، بلکـې د کورنيـو او ټـولنې د پوهـاوي لـوړول او د مثبتـو ټـولنيزو ليـدلوړو پياوړتيـا هـم اړينه ده.

پـه پايلـه کـې، د دې څېړنـې اسـاسي اسـتنتاج دا دی، چـې پـه شـنيز دره کـې د ښـوونې او روزنـې د کيفيـت د دوامـدار ښـه والي لپـاره بايـد د ښـوونکو د مسـلکي ظرفيـت لوړولـو، د ښـوونيزو امکانـاتو او زيربنـاوو پياوړتيـا، د زده‌کوونکـو او کورنيـو اقتصـادي او ټـولنيز ملاتـړ، د ښـوونځيو د لاسرسي ښـه کـول او د زده‌کـړې پـه اړه د مثبتـو ټـولنيزو ليـدلوړو پياوړتيـا پـه يـوه همغږي او پـر شـواهدو ولاړه تګـلاره کـې شـامل شي. دغـه پايلـه د دې اړتيـا څرګندونـه کـوي چـې د سـيمې د ښـوونيز کيفيـت د لوړولـو لپـاره سـيمه‌ييزو شرايطـو او واقعـي اړتيـاوو تـه پـه کتـو مشخصـې پاليسـي او عملي پروګرامونه طرح او پلي شي.

وړاندیزونه

د دې څېړنـې د مونـدنو، احصـائيوي تحليلونـو او د ښـوونې او روزنـې د کيفيـت پـر وړانـدې د پېژنـدل شـوو سـتونزو پـر بنسـټ، لانـدې مشـخص، عمـلي او د تطبيـق وړ وړاندیزونـه وړانـدې کېـږي. دا وړاندیزونـه د ښـوونکو د مسـلکي وړتيـا، ښـوونيزو امکانـاتو، زده‌کوونکـو د تعليمـي دوام، کـورني او ټـولنيز ملاتـړ، او همدارنګـه د ښـوونيز چاپېريـال د ښـه والي پـه برخـو کـې د موجودو اړتياوو د حل په موخه ترتيب شوي دي.

د ښـوونکو د مسـلکي وړتيـا لـوړول: د سـيدآباد ولسـوالۍ د شـنيز درې پـه ښـوونځيو کـې دې د هغـو ښـوونکو لپـاره چـې مسـلکي روزنـې تـه اړتيـا لـري، د اړتيـاوو پـر بنسـټ مـنظم مسـلکي لنډمهاله روزنيز پروګرامونه او د تدريسي مهارتونو د لوړولو ورکشاپونه جوړ او عملي شي.

د ښـوونيزو امکانـاتو او تدريـسي چاپېريـال پياوړتيـا: اړونـدې ښـوونيزې اداري دې د شـنيز درې د ښـوونځيو اړتيـاوې پـه مشـخص ډول وارزوي او د درسي کتـابونو، تدريـسي مـوادو، ټولګيـو او نورو اړينو ښوونيزو امکاناتو د کمښت د جبران لپاره دې لومړيتوبونه وټاکي.

د اقتصـادي سـتونزو لـه املـه د زده‌کـړې د پرېښـودو مخنيـوی: د اقتصـادي و ضعيت او ښـوونيز دوام تـرمنځ د مثبتـې اړيکـې لـه مخـې، اړونـدې اداري دې د اقتصـادي پلـوه زيـانمنو زده‌کوونکـو لپـاره د درسي توکـو، کتـابونو او نـورو اړينـو تعليمـي لګښـتونو د ملاتـړ څـانګړي پروګرامونه رامنځته کړي، څو اقتصادي ستونزې د هغوی د زده‌کړې د دوام خنډ ونه ګرځي.

د کورنۍ د ملاتړ پياوړتيا: د والدينو او کورنيو لپاره دې د زده‌کوونکو د منظم حضور، د زده‌کړې د دوام او د کورني ملاتړ د اهميت په اړه د پوهاوي غونډې جوړې شي، څو کورنۍ د خپلو ماشومانو د زده‌کړې په بهير کې لا فعاله ونډه واخلي.

د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ پياوړتيا: د جنسيت او د نجونو د زده‌کړې د ملاتړ ترمنځ د مونډل شوې اړيکې له مخې، د پوهاوي پروګرامونه دې د ديني عالمانو، قومي مشرانو، ښوونکو او والدينو په همکارۍ ترسره شي، څو د نجونو د زده‌کړې په اړه مثبت ټولنيز لیدلوری پياوړی شي.

ښوونځيو ته د لاسرسي د ستونزو کمول: هغه ښوونځي او سيمې چې زده‌کوونکي يې د ترانسپورتي، فزيکي يا چاپيريالي ستونزو له املې منظم لاسرسی نه لري، د اړوندو ادارو له خوا د مشخص لومړيتوب‌ورکړل شي او د لاسرسي د ښه والي لپاره دې د سيمې له اړتياوو سره سم عملي اقدامات ترسره شي.

د ښوونيز کيفيت د دوامداړي ارزونې سيستم: د شنيز درې د ښوونځيو ښوونيز و ضعيت دې په منظم ډول د مشخصو شاخصونو، لکه د زده‌کوونکو حضور، د ښوونکو مسلکي وړتيا، د درسي امکاناتو شتون او د زده‌کړې د دوام له مخې وارزول شي، څو د ستونزو د رامنځته کېدو په وخت کې پر وخت اصلاحي اقدامات ترسره شي.

د راتلونکو څېړنو لپاره وړانديز: راتلونکې څېړنې دې د ميدان وردګو ولايت د نورو ولسوالیو په کچه ترسره شي او د شنيز درې له مونډنو سره دې مقايسه شي؛ څو د ښوونې او روزنې د کيفيت د سيمه‌ييزو توپيرونو او ګډو ستونزو په اړه لا پراخ شواهد ترلاسه شي.

اخځليکونه

احمدي، ن .(۲۰۱۸) .*د کليوالو سيمو د ښوونې او روزنې وضعيت: ننګونې او حل لارې* .کابل: د پوهنې وزارت.

اصغری، م. ج. (۱۳۹۰). تعلیم و تربیه در افغانستان .*فصلنامه پژوهش‌های منطقه‌ای* ,(۷).

سعيد، ک. (۲۰۱۹). د نجونو د ښوونې ستونزې او د ټولنې نقش .*د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون څېړنيز ژورنال* ,۸(۱)، ۱–۱۸.

غني، ف. (۲۰۱۷). د امنيتي وضعيت اغېز په ښوونيز بنسټونو کې .*د افغانستان مطالعات* ,۵(۲)، ۲۳–۳۸.

فطرت، ع.، و دلاور، ح. (۱۴۰۲). بررسی چگونگی وضعیت تعلیم و تربیه در افغانستان .*مجله علمی-تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل* ,(۴)، ۱۷۸. https://journals.edu.gov.af/article/829

هاشمي، ر. (۲۰۲۰). د ښوونکو کمښت او د زده کړې کيفيت په کليوالو سيمو کې .*د تولنيزو علومو ژورنال* ,۱۲(۳)، ۴۵–۶۰.

د پوهنې وزارت .(۲۰۱۹) .*د ملي ښوونيز فعاليت راپور* .کابل: د پوهنې وزارت خپرونې. https://www.moe.gov.af/en/reports

Aslam, M., & Kingdon, G. (2011). What can teachers do to raise pupil achievement? *Economics of Education Review*, *30*(4), 559–574. https://doi.org/10.1016/j.econedurev.2011.03.001

Barakat, S., Hardman, F., Rohwerder, B., & Rzeszut, K. (2013). The role of teachers in peacebuilding and social cohesion in conflict-affected contexts. *Education, Conflict and Development Journal*, *1*(1), 15–35.

Barro, R. J., & Lee, J. W. (2013). A new data set of educational attainment in the world, 1950–2010. *Journal of Development Economics*, *104*, 184–198. https://doi.org/10.1016/j.jdeveco.2012.10.001

Creswell, J. W. (2014). *Research design: Qualitative, quantitative, and mixed methods approach* (4th ed.). Sage.

Darling-Hammond, L. (2017). Teacher education around the world: What can we learn from international practice? *European Journal of Teacher Education*, *40*(3), 291–309. https://doi.org/10.1080/02619768.2017.1315399

Field, A. (2018). *Discovering statistics using IBM SPSS statistics* (5th ed.). Sage.

Hanushek, E. A., & Woessmann, L. (2012). Do better schools lead to more growth? Cognitive skills, economic outcomes, and causation. *Journal of Economic Growth*, *17*(4), 267–321. https://doi.org/10.1007/s10887-012-9081-x

Ministry of Education. (2021). *Education statistical yearbook 2020–2021*. Kabul, Afghanistan: Ministry of Education.

Ministry of Education. (2021). *Education sector analysis report: Afghanistan*. Kabul, Afghanistan: Ministry of Education.

UNESCO. (2019). *Global education monitoring report 2019: Migration, displacement and education*. UNESCO Publishing. https://doi.org/10.54676/UZCO7668

UNESCO. (2021). *Global education monitoring report 2021/2: Non-state actors in education*. UNESCO Publishing.

UNESCO. (2023). *Global education monitoring report 2023: Technology in education – A tool on whose terms?* UNESCO Publishing.

UNESCO. (2023). *Global education monitoring report 2023: Education as a driver of social and economic transformation*. UNESCO Publishing.

UNICEF. (2022). *Education in emergencies and protracted crises: Afghanistan country report*. United Nations Children's Fund.

World Bank. (2018). *World development report 2018: Learning to realize education's promise*. https://doi.org/10.1596/978-1-4648-1096-1

World Bank. (2021). *Afghanistan education sector analysis*. World Bank Publications. https://doi.org/10.1596/978-1-4648-1706-5

World Bank. (2022). *Afghanistan public expenditure review: Education sector analysis*. World Bank.

World Bank. (2022). *World development report 2022: Finance for an equitable recovery*. https://doi.org/10.1596/978-1-4648-1730-4